# د افغانستان اسلامي امارت

## د ارشاد، حج او اوقافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست


**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**
**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**۲۷/ جمادی الاولیٰ/۱۴۴۶ هـ، ق موافق د ۹/ قوس/۱۴۰۳هـ، ش**

# د ترافیکي پیښو د مخنیوي ضرورت او د عاملینو لپاره یې دُنیوي او اُخروي سزاګانې

**بسم الله الرحمن الرحيم**

الْحَمْدُ لِلَّهِ كَمَا يَنْبَغِي لِجَلاَلِ وَجْهِهِ وَعَظِيمِ سُلْطَانِهِ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ سَيِّدَنَا مُحَمّداً عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ الدَّاعِي إِلَى رِضْوَانِهِ، صَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ، وَمَنِ اهْتَدَى بِهَدْيِهِ مِنْ إِخْوَانِهِ، أَمَّا بَعْدُ:

قال الله سبحانه وتعالی: {وَلا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيماً(۲۹) وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ عُدْوَاناً وَظُلْماً فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَاراً وَكَانَ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيراً} النسا:(۳۰)

**محترمو حاضرینو او او ریدونکو!**

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

د اسلام مبارک دین د نفسونو او مالونو په حفاظت باندې زیات تاکید کړی دی او د نفسونو او مالونو حفاظت یې د اسلامي سترو پنځو ګونو مقاصدو له جملې څخه ګرځولی دی او هر هغه عمل او کړنه یې حرامه ګرځولی ده چې د نفسونو او مالونو د تلف سبب ګرځي. هغه څه چې نفسونه له منځه وړي او یا ورته زیان رسوي او مالونه تلف کوي یو هم ترافیکي پیښې دي.

کوم څه چې نن سبا زیات واقع کیږي هغه ترافیکي پیښي دي چې له امله له خلکو څخه ژوند اخیستل کیږي ، ماشومان او زنانه په کې وژل کیږي، انسانان په کې د ټول ژوند لپاره معلوله کیږي او یا نیمګړی کیږي، ترافیکي پیښې د خلکو د مړینې سبب ګرځي او کورنۍ د غم په ټغر کینوي ، د ځینو خلکو په ترافیکي پیښه کې مال او دولت تباه شي او خلکو ته درانه مالي نقصانات واوړي ، د ځینو خلکو د ذهني او جسمي معلولیت سبب وګرځي.

ټرافیکي پېښې هر هغه ټکر یا تصادم ته ویل کېږي چې د موټر، پیاده، بایسکل چلوونکي یا په سړک کې کوم بل شی سره پېښېږي. دا پېښې کېدای شي د کوچنیو ټکرونو څخه تر لویو ټکرونو پورې وي چې پایله کې یې جدي ټپونه یا مرګ ژوبله رامنځته کیږي.

## د ټرافیکي پېښو لاملونه:

د ټرافیکي پېښو د رامنځته کېدو لپاره ډېرې عوامل شتون لري، چې ځینې خورا عام لاملونه یې په لاندې ډول دي:

**له ترافیکي قوانینو څخه سرغړونه:** د ټرافیکي قوانینو تر پښو لاندې کول، په افغانستان کې د ټرافیکي پېښو له اصلي لاملونو څخه یو دی. ډېری موټر چلوونکي چې له ټرافیکي پېښو سره مخ کېږي د موټر چلولو جواز او د ټرافیکي قواعدو په تړاو اړینه پوهه نه لري.

**بې پامه او په بې باکۍ سره موټر چلول:** په بې پامۍ او په بې باکۍ سره موټر چلوونکي په افغانستان کې تر ټولو زیاتې ټرافیکي پېښې کوي. دوی د موټر چلولو پر مهال -په بشپړې پاملرنې سره موټر نه چلوي او په -تیلیفون خبرې کوي ، په سمارټ فونونو بوخت وي او پیغامونه -لیږي، خوراک کوي یا په نورو داسې کارونو بوخت وي چې -د موټر چلوونکي پام له سړک څخه واړوي.

په ځینو وختونو کې موټر چلوونکي د موټر چلولو په حالت کې په مبائل کې په خبرو کولو دومره بوخت شي چې له ډریورۍ غافله شي او لویه دردوونکې پیښه رامنځ ته کړي .

**په لوړ سرعت سره موټر چلول:** په غیرقانوني یا لوړ سرعت موټر چلول چې د سړک شرایطو لپاره مناسب نه وي کولای شي د ټرافیکي پېښو خطر لوړ کړي. په لویو لارو کې ډریوران د مجاز ترحد څخه په زیات سرعت سره موټرې چلوي او په ځینو وختونو کې یو د بل څخه په مخکې کیدو کې مسابقه کوي، چې له امله یې ترافیکي بوږنوونکې پیښې رامنځ ته کیږي، چې په دې کار سره دخپل ځان او د خلکو ژوند دمرګ سره مخ کوي.

**د نشې او مخدره موادو د استعمال پر وخت موټر چلول:** د مخدره توکو لکه چرس، پوډر یا الکول څښلو پر وخت موټر چلول کولای شي د غوره پرېکړې او چټک غبرګون په برخه کې د موټر چلوونکي وړتیا کمزورې کړي. په نشه یي حالت کې د موټر چلول د ټرافیکي پېښو یو له اصلي لاملونو څخه دی. په ځینو وختونو کې د لویو لارو ډریوران په نشه یې توکو روږدی وي او چې کله د موټر چلولو اراده وکړي ، نو تازه چرس یا نور مخدره مواد استعمال کړي او په لاره کې بیا پر ځان او په موټر پوره سلطه نلري او موټر له بل موټرسره ووهي او یا یې چپه کړي او یا ور باندې د چا ماشوم او یا حیوان ووهي او وه یې وژني.

- **بې احتیاطه موټر چلول:** په بې احتیاطۍ موټر چلولو کې ځینې چلندونه لکه لوړ سرعت، د موټر شاته تګ، د بل موټر په ټرافیکي لین کې سفر کول، او -د ټرافیکي نښو له پامه غورځولو سره موټر چلول شامل دي چې د ټرافیکي پېښو له لاملونو څخه ګڼل کېږي. ځینو ډریورانو ته د انسان مرګ او ترافیکي پیښه یوه عادي پیښه ښکاري او د انسان ژوند ورته هیڅ اهمیت نلري.

- **خرابه هوا یا د سړک شرایط:** باران، واوره، کنګل او  خراب موسم او د سړک شرایط کولای شي -موټر چلول ډېر ستونزمن کړي او د حادثې خطر زیات کړي.

- **د موټر تخنیکي ستونزې:** په دې کې د بریکونو، ټایرونو، سټرینګ یا د موټر په نورو برخو کې ستونزې شاملې دي چې کولای شي د ټرافیکي پېښو لامل شي.

- **د هغو موټرو شتون چې د افغانستان لاس نه دي:** د افغانستان د قوانینو له مخې په افغانستان کې د ښي لاسي موټرو د فعالیت اجازه نشته. یوازې د افغانستان لاس کنټرول موټرو (کیڼ لاس سټرینګ) موټر د فعالیت اجازه لري. په ورته وخت کې، نظام = له خوا هم د ښي لاسي موټرو ته اجازه ورکړی ده،چې دا په سړکونو کې د ټرافیکو جریان ګډوډوي او په دې توګه د ټرافیکي پېښو لامل کېږي.

- **د بې تجربه کسانو له خوا موټر چلولو:** دا هم لیدل شوي دي چې یو څوک موټر واخلي او غواړي چې چل ور باندې یاد کړي ، نو په لوی جرأت سره د موټر چلولو د یادولو لپاره عمومي سړکونو او لارو ته موټر وباسي او داچې کافي تجربه نلري او

ډریوري یې پوره یاده نه وي ؛ نو ترافیکي پیښې رامنځ ته کړي. یا د لرې فاصلو ډریوران په لاره کې خپل موټران شاګردانو ته ورکوي ترڅو چل یې یاد شي او شاګرد او همکار چې پوره تجربه نلري ترافیکي پیښه رامنځ ته کړي.

## د ترافیکي پیښو ځاني او مالي زیانونه:

ټرافیکي پېښې کولای شي په انسانانو باندې هراړخیزه پراخې منفي اغېزې ولري، ځینې په لاندې ډول دي:

**د انسانانو او حیواناتو مړینه:** په ډېرو پېښو کې، ټرافیکي پېښې د مړینې لامل کېږي او کورنۍ د دې پېښو له امله خپل عزیزان اوخپلوان له لاسه ورکوي.داسې ډېر پیښیږي چې په ترافیکي پیښه کې په لس ګونو بې ګناه انسانان ووژل شي اویا هم حیوانات تلف شي.

**فزیکي ټپونه:** ټرافیکي پېښې کولای شي یو شمېر فزیکي ټپونه او ستونزې رامینځته کړي لکه د هډوکو ماتېدل، د سر ټپونه، د پوزې ټپونه او ځینې داخلي زخمونه رامنځته کړي.

- **روحي ستونزې:** ټرافیکي پېښې کېدای شي یو دردناکه تجربه وي چې کولای شي له پېښې وروسته د احساساتي او رواني فشار، اضطراب او اختلال لامل شي او همداراز داچې په ترافیکي پیښه او حادثه کې خلک د خپلې کورنۍ غړي له لاسه ورکوي ، ددې ترځنګ د کورنیود غړو خپګان ، فشار، اضطراب او عقلي مشکلاتو لامل ګرځي او زیاتې کورنۍ د خپلې کورنۍ سرپرستان له لاسه ورکوي او کورنۍ بې سرپرسته پاتې کیږی.

- **مالي زیانونه:** ټرافیکي پېښې کېدای شي د پام وړ مالي زیانونو لامل شي لکه روغتیا لګښتونه، د ترانسپورتي وسیلو او موټرو له منځه تلل او یا ترمیمول او نورو لګښتونو لامل شي.

- **دائمي معلولیت:** په ځینو مواردو کې، ټرافیکي پېښې د معلولیت لامل کېږي، کوم چې د خلکو د ژوند په څرنګوالي د پام وړ ناوړه اغېزه کولای شي.په ځینو مواردو کې د ترافیکي پیښې ښکار شوي کسان د وجود مهم غړي لکه لاس، پښې، سترګې، د مخ او سر غړي، د ملاتیر له لاسه ورکوي او ترافیکي پیښه د هغوی ددائمې معلولیت سبب ګرځي.

## د ټرافیکي پېښو د مخنیوي لپاره لازمې او ضروري لارښوونې:

د ټرافیکي پېښو د کنټرول لپاره بېلابېلې لارې چارې شته چې کولای شو د ترافیکې پیښو مخنیوي وکړي چې ځینې یې په لاندې ډول دي

**۱- د موټر او وسائطو چلولو د مقرراتو عملي کول:** د خوندي موټر چلونې د تګلارو رعایتول، د ترافیکې قوانینو او لارښوونو عملي کول او په پام کې نیول او په سرکونو د پیاده تېرېدونکو خلکو له خوا د ترافیکې قوانینو او اصولو په پام کې نیول، د ترافیکي پیښو په مخنیوي کې مهم رول لري. او سرغړونکو ته تادیبي سزا ګانې ورکول د ترافیکي پیښو کچه را ټیټوي.

همدا راز ماشومان د کورنیو له خوا او په مکتبونو او مدرسو کې وپوهول شي چې په کوم حالت کې او د سرک په کومو ځایونو کې دوی له سرک څخه دتیردو حق لري .او عام خلک هم د خپل نفس د حفاظت په موخه باید د سرک څخه د تیریدو پر وخت له احتیاط څخه کار واخلي. اکثره وخت کمزوري بوډاګان، زنانه، ماشومان په تیز سرک باندې په منډه د تیردو کوښښ کوي چې له امله یې ترافیکي پیښه رامنځ ته کیږي . باید د ترافیکو ریاست له خوا او دفوائد عامه وزارت له خوا په سرک په باندې د پلي تیریدونکو خلکو لپاره ځایونه مشخص کړي، ترڅو د ترافیکو پیښو مخنیوی وشي.

**۲- د نشې په حالت کې له موټر چلوونې ډډه کول:** کوم کسان چې نشه يې توکي او مخدره مواد استعمالوي بايد له موټر چلونې منع کړل شي او دولت بايد دداسې کسانو د تشخيص لپاره کړنلارې په کار واچوي او هغه چاته سزا ورکړي چې د نشې په حالت کې موټر چلوي . همدرانګه د موټر خاوندان هم بايد په دې برخه کې خپل مسئوليت اداء کړي او هغه څوک په ډريورۍ ونه نيسي چې نشه يې توکي کاروي او استعمالوي؛ ځکه چې داسې کسان د ترافيکې پېښو عاملين دي او ستاسو مال له منځه وړي.

**۳- د موټر چلوونې قوانينو او لارښوونو عملي کول:** د موټر چلوونې قوانينو سره سم موټر چلوونه او د ترافيکو او د موټر چلولو لارښوونو په ګډون، د سرعت محدوديت، د سيټ ملابند کارول، او په پوره احتياط سره موټر چلول، د ټرافيکي خطرناکو پېښنو مخنيوی کوي.

**۴- د سړکونو وضعيت ښه کول:** ښه ډيزاين شوي سړکونه او زيربناوې او د سرکونو په غاړو  د ټرافيکي لارښود نښو او اشارو نصبول،د شپې له خوا په لويو ښارونو کې د عبور او مرور ترافيکي څراغونه فعالول او د پياده تګ راتګ لپاره لارې جلا کول دا هر څه د ترافيکي پيښو په مخنيوي کې رغنده رول لري.

**۵- د افغانستان لاس موټرو کارول:** په افغانستان کې د کيڼ لاس (افغانستان له قوانينونو سره سم کيڼ لاسي موټر) کنټرولېدونکو موټرو کارول د ټرافيکي پېښو په مخنيوي کې اغېزمن تماميږي او کوم چې د ښي لاس موټران دي، دولت بايد سرمايه ګذاران تشويق کړي، ترڅو  هغه تخنيکي وسائل او ماشينونه له بهر وارد کړي چې د ښي لاس موټران ټول دافغانستان لاس ته واړوي.

**٦- د موټر د خونديتوب ځانګړتياوې:** د خونديتوب ځانګړتياو کارول لکه د هوا کڅوړې (Airbags)، د هنډ بريک فعال ساتل،او په موټر کې د بريښنايی سيستم فعال ساتل د ترافيکي پيښو په مخنيوي کې مؤثر رول لوبوي.

همداراز مخکې له دې چې موټر ته حرکت ورکړل شي، موټر بايد چک کړل شي ، د موټر ټايرونه وکتل شي، مبلاېل، بريکونه يې وکتل شي، د عقب شيشې او نور هرهغه څه يې وکتل شي د موټر په چلولو کې او دريدلو کې مهم رول لري.

**۷- په بار وړونکو موټرو د مجاز بار څخه د زيات بار بارولو څخه ډډه کول:**  په اکثرو وختونو کې په باروړونکو موټر دمجاز بار څخه د زيات بارول د ترافيکي پيښو لامل ګرځي؛ نو په کارده چې د ترافيکي مامورين او دفوائدو عامه وزارت په شريکه ددې ناوړه حرص مخه ونيسي، ترڅو معيارې ترانسپورت نظام ولرو او د پيښو مخنيوی وشي.

**۸- د موټرو د زيات سرعت مخنيوی:** اکثره موټر چلووونکي بالخصوص لوی موټر چلوونکي او هغه باروړونکي موټرې چې قانوني اسناد نلري، د خپل حد څخه  په زيات سرعت سره موټر چلوي او چې کله انسانان، کوچني موټران او حيوانات يې مخې ته راشي ؛ نو بيا خپل موټر  نشي کنټرولولای او ترافيکي پيښه رامنځ ته شي؛ د نظام او دولت دنده ده چې د تيز سرعت چلوونکي ډريورانو مخه ونيسي، په نښه يې کړي،جرمانه يې کړي او توقيف يې کړي ترڅو له دې ناوړه عادت څخه منع شي او د ترافيکي پيښو مخه ونيول شي.

د ترافيکي پيښو د مخنيوي لپاره دولت او نظام بايد د سرکونو په اوږدو کې تعقيبي دوربينونه نصب کړي او هغه موټران او ډريوان په نښه کړي چې له مجاز حد څخه تيز موټر چلوي.

**۹-کوم کسان چې د موټر چلولو جواز ونلري:** کوم کسان چې د موټر چلولو جواز ونلري ، باید په عمومي سرکونو باندې د موټر چلولو څخه ډډه وکړي او داسې کسانو ته باید ترافيکي مامورين لازمه سزا ورکړي.

**۱۰**- په ټول افغانستان کې د ترافيکي قوانينو په جديت سره نافذول دترافيکي پيښو مخنيوي تضمينوي.

## د ترافيکو پيښو د عاملينو لپاره دُنيوي او اُخروي سزا ګانې:

داسلام په مبارک دين کې د انسان نفس ډېر با ارزښته دي او بايد چې د معصوم نفس له وژلو څخه ځان وساتل شي ؛ ځکه د بې ګناه نفس تلف کول د الله تعالی په نزد ډيره لويه ګناه ده. په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَزَوَالُ الدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللَّهِ مِنْ قَتْلِ رَجُلٍ مُسْلِمٍ» سنن الترمذي (٤/ ١٦)

ژباړه:- د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: خامخا الله تعالی ته ددنيا له منځه وړل ډيره وړه خبره دالله تعالی په نزد، د مسلمان د وژلو څخه.

**شرح او توضيح:** دنيا چې د مسلمانانو د اوسيدو ټاټوبی دی او د الله تعالی مقدس اماکن په کې دي او مهبط د وحی دی او د پيغمبرانو او اولياوو د اوسيدو ځای دی.که چيرې څوک دا دنيا ټوله هلاکه کړي او د ځمکې ازاله وکړي ، دا دالله تعالی په نزد د مسلمان له وژلو څخه وړه خبره ده.

په يو بل حديث شريف کې د انسان د وژلو په باره کې سخت وعيد راغلی دی او کوم کسان چې بې ګناه انسان ووژني الله تعالی به ټول په جهنم کې نسکور واچوي. رسول اکرم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: عن أَبِی سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، وَأَبِی هُرَيْرَةَ يَذْكُرَانِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَوْ أَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ اشْتَرَكُوا فِي دَمِ مُؤْمِنٍ لَأَكَبَّهُمُ اللَّهُ فِي النَّارِ» سنن الترمذي (٤/ ١٧)

ژباړه:- د ابو سعيدخدري او ابو هريرة رضي الله عنهما دواړه ذکر کوي درسول الله صلی الله عليه وسلم څخه چې هغه وفرمايل: که چيرې د آسمان مخلوق او د ځمکي مخلوق دواړه شريک شي د مؤمن په وينه کې (وژلو کې) ؛ نو خامخا به الله تعالی دوی پړمخې واچوي دوي ټول په جهنمو کې

په يو بل حديث شريف کې راځي چې د قيامت په ورځ به د مسلمان د وژونکي په تندي ليکلي وي چې دا شخص د الله تعالی د رحمت څخه نا اميده دی.د حديث شريف لفظ داسې دی: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« مَنْ أَعَانَ عَلَى قَتْلِ مُؤْمِنٍ وَلَوْ بِشَطْرِ كَلِمَةٍ، لَقِيَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ: آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ اللَّهِ». سنن ابن ماجه (٢/ ٨٧٤)

ژباړه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : څوک چې کومک وکړي( له باچا سره) د مؤمن په قتل کې اګر که په نيمه خبره باندې هم وي ، مخامخ به شي د الله جل جلاله سره (د قيامت په ورځ) او ليکل شوی به وي ددواړو سترګو په منځ کې (تندي باندې) داسې ( دالله تعالی له رحمت څخه نا اميده) شخص.

بې باکه ډريوري کول، يا د نشې په حالت کې ډريوري کول، يا په داسې حالت کې ډريوري کول چې لاس او ذهن يې په مبائل باندې مشغول وي ، داپه حقيقت کې ځان او خلک په زوره په هلاکت کې اچول دي او الله تعالی فرمايې چې ځانونه په خپلو لاسونو په هلاکت کې مه اچوئ. الله تعالی فرمايلي دي:{وَلا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيماً} النساء: (٢٩)

ترجمه:- او مه وژنئ تاسې سره ځانونه خپل (يعنی يو بل يا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې د هلاکت سبب وي) بېشکه چې الله دی پر تاسې باندې مهربان.

مفسرين ددې آيت په تفسير کې ليکي: الله تعالی په دې آيت کې په بنده دا کار حرام کړي دی چې خپل ځان په خپله ووژني.

یا ددې آیت معنا داده چې یو بل مه وژنئ. او یا ددې آیت معنا داده چې خپل ځان په داسې مشقت او تکلیف کې مه اچوئ چې له امله یې تاسو مړه شی. او یا ددې آیت معنا داده، چې د خپلو نفسونو په برخه کې مه غافله کیږئ او څوک چې د خپل نفس په باره کې غفلت وکړي دا داسې ده لکه چې خپل نفس ووژني. زاد المسیر لابن الجوزي (٢/ ٦٢)

په غیر اصولي ډول ډریوري کول، په سرعت سره ډریوري کول، د نشې په حالت کې موټر چلول ، په موټر باندې زیات بار، بارول دا ټول هغه کارونه دي چې انسان هلاکت ته اچوي او الله تعالی امر کړی دی چې ځانونه په خپله په هلاکت کې مه اچوئ.

الله تعالی په مبارک آیت کې فرمایلي دي: {وَلا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}البقرة: (١٩٥)

ترجمه:- او مه غورځوئ ځانونه خپل په هلاکت کې( جهاد ترک کړئ ! او خپل مالونه په غزا کې و نه لګوئ!) او نیکي کوئ! (له هر چا سره مخصوصاً له غازیانو سره) بېشکه چې الله دوستي کوي له نېکو کارانو سره.

په دې کې هیڅ شک نشته چې څوک د ډریوری سره پوره بلد نه وي او یا د ډریوری له اصولو خلاف ډریوري کوي ، په زوره ځان او نور خلک په هلاکت کې اچوي.

د اسلام په سپیڅلي دین کې د مسلمان حرمت د کعبې شریفې له حرمت څخه هم زیات دی.یو ځل عبدالله بن عمر رضي الله عنه کعبې شریفې ته وکتل او داسې یې وویل: خطاب وکړ: « وَنَظَرَ ابْنُ عُمَرَ يَوْمًا إِلَى البَيْتِ أَوْ إِلَى الكَعْبَةِ فَقَالَ: «مَا أَعْظَمَكِ وَأَعْظَمَ حُرْمَتَكِ، وَالمُؤْمِنُ أَعْظَمُ حُرْمَةً عِنْدَ اللَّهِ مِنْكِ»: سنن الترمذي (٤/ ٣٧٨)

ژباړه:- یوه ورځ عبدالله بن عمر رضي الله عنه کعبې شریفې ته وکتل او داسې یي وویل: ای کعبې! څومره لوی شان لری! او څومره لوی حرمت لری!؛ خو مؤمن زیات حرمت لري د الله تعالی په نزد ستا په نسبت.

په شریعت کې د بې ګناه انسان دومره مصئونیت لري چې که چیرې څوک یو څوک ووژني ، دا دالله تعالی په نزد داسې ده لکه ټول انسانان چې یې وژلي وي.الله تعالی فرمایلي دي:{ مَنْ قَتَلَ نَفْساً بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعاً} المائدة:(٣٢)

ترجمه:- هر څوک چې ووژني یو نفس بې له عوض بدل د بل نفس نه (یا بې)له فساده په ځمکه کې (چې په ملک کې یې فساد کړی وي) نو ګواکې وژلی یې دي خلق ټول .

ددې آیت په نفسیر کې عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمایې: ددې معنا داده چې که څوک یو نفس ووژني او د هغې حرمت د پښو لاندې کړي ، دا داسې دی لکه ده چې ټول انسانان وژلي وي. تفسیر القرطبي (٦/ ١٤٦)

که چیرې موټر چلوونکي د موټر چلولو جواز درلود او څوک یې ووهلو په خطا سره او هغه مړ شو او تقصیر د مړ شوي شخص نه وه ؛ نو د داسې ډریور لپاره د الله تعالی له طرفه دوه ډوله سزاګانې مقرر دي چې یو دیت دی او بله کفاره ده. الله تعالی فرمایلي دي:{ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِناً خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلا أَنْ يَصَّدَّقُوا فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيماً حَكِيماً}النساء: (٩٢)

ترجمه:- او هر څوک چې مړ کړي کوم مؤمن په خطا سره نو (شته پر قاتل) آزادول د غاړې (د مریي) مؤمن او بل دیت دی سپارلی شوی اهل (وارثانو) د مقتول ته مګر دا که معاف کړي دا (وارثان دغه قاتل) پس که وو (دا مقتول) له هسې قومه چې دښمن وي تاسې لره حال دا چې دا مقتول مؤمن وي نو (شته پر قاتل تش) آزادول د غاړې (د مریي) مؤمن (بې له دیته) او که وو دا مقتول له (هسې) قومه چې په منځ ستاسې او په منځ د هغه قوم کې عهد وي نو (شته پر قاتل یو )دیت سپارلی شوی اهل (وارثانو) د مقتول ته او بل آزادول د غاړې د مریي مؤمن دي پس هر څوک چې ونه مومي مریی یا مال چې پرې

مریی واخلي نو پرې روژه نیول د دوو میاشتو دي پر له پسې (بلا انقطاع لپاره د قبلولو د توبې له جانبه د الله ) او دی الله ښه عالم په ټولو احوالو لوی حکمت والا چې هر کار په حکمت او مصلحت سره کوي).

**توضیح :** یعنې که کوم ډریور څوک په خطا سره ووهي او هغه مړ شي او تقصیر د مقتول له خوا څخه نه وي ؛ دا ډریور د وژل شوی شخص ددیت په ورکولو مکلف دی. او ددیت اندازه ۱۰۰۰ زر دیناره ده چې نن و رځې په حساب باندې ۴ څلور کلو او ۳۷۴ گرامه طلاه کیږي. او یا به ددغه مقدار طلا قیمت ورکوي.او ددیت مقدار په نقرې سره ۱۰۰۰۰لس زره نقره (سپین زر) دی ، چې د اوسني وخت په حساب سره ۳۰ دیرش کلو او ٦١٨ گرامه نقره یا سپین زر کیږي، دغه مقدار نقره به ورکوي او یا به ددغه مقدار نقرې قیمت ورکوي.دارالافتاء جامعة دارالعلوم الاسلامية. علامه محمدیوسف بنوري ټاون - کراچي کله چې یو ډریور د نشې په حالت کې یا د ترافیکي قوانینو په خلاف سره ترافیکي پیښه رامنځ ته کړي او په کې نفسونه تلف شي ؛ نو دا کار داسې دی لکه ده چې ټول خلک وژلي وي ؛ ځکه چې ده د په موټر کې د ناستو انسانانو حرمت د پښو لاندې کړ.

په اسلامي شریعت کې د انساني نفسونو پر حفاظت ټینګار شوی دی او د نفس د حفاظت او بقاء په موخه الله تعالی انسان ته د اضطرار او ضرورت پروخت ډیری حرام او ناجائز شیان جائز ګرځولي دي ، لکه د مخمصې په حالت کې د مردارې خوړل، د ضرورت په حالت کې د بل چا څخه په زوره د خوراک او څښاک اخیستل او ورسره د جګړې د کولو جواز. امام جصاص رح وایې:(ومن امتنع من المباح حتى مات كان قاتلا نفسه متلفا لها عند جميع أهل العلم.) أحكام القرآن للجصاص(١ /١٥٧)

ژباړه:- او څوک چې ممانعت وکړي د مباح څخه تر دې چې مړ شو، داسې شخص د خپل نفس قاتل دی او دخپل نفس تلف کوونکی دی د ټولو اهل علم په نزد.

ددې وجې نه مجهدین وایې:(حِفْظَ النُّفُوسِ وَاجِبٌ مَا أَمْكَنَ). الموسوعة الفقهية الكويتية (٢ /١٢٥)

ژباړه:- د نفسونو حفاظت واجب دی د امکان تر حد پورې.

امام قرطبی رح وایې: (فإن صيانة النفس عن المكروه واجبة). تفسير القرطبي(٣ /٢٣٤) ژباړه:ساتل د نفس د مکروه څخه واجب دی.

په یو بل ځای کې فقهاء کرام وایې:(حِفْظَ النُّفُوسِ آكَدُ الضَّرُورِيَّاتِ الَّتِي تَجِبُ مُرَاعَاتُهَا بَعْدَ حِفْظِ الدِّينِ).الموسوعة الفقهية الكويتية (١٨ /٢٦٧)

ژباړه:- د نفسونو حفاظت د ډیرو مؤکدو ضرورتونو څخه دي ، هغه چې مراعت یې پس له دین څخه واجب دی.

بناءً که څوک کوم انسان په موټر ووهي او ضرر ورته ورسوي د نظم عامه د اخلال په وجه به یې دولت بندي کوي او د جرم په تناسب به یې د بند موده ور زیاتوي او که چیرې تقصیر یواځې دده وي نو مالي تاوان به هم ورکوي.

دا ګناهونه او سزاګانې د هغه چا لپاره دي چې د نشې پ حالت کې موټر چلوي او یا په افراطي سرعت سره موټر چلوي، یا دده د بې احتیاطۍ له امله ترافیکي پیښه رامنځ ته شي ؛ نو په دغو ټولو صورتونو کې پورتنې وعیدونه ورته متوجه دي او که چیرې تصادم کوونکي دواړه موټر چلونکي وي ؛ نو بیا ځاني او مالي تاوان پر دواړو باندې دی.خو که چیرې کوتاهي د موټروان له خوا څخه نه وي او کوتاهي د متضرر شخص له خوا وي او دا ثابته شي په دې صورت کې موټر چلونکی بریء دی. څوک چې بل څوک په قصد یا خطا سره په موټر ووهي او د هغه هډوکي ورمات کړي، یا غاښونه ورمات کړي، یا یې سترګې وباسي او یا بل کوم معلولیت ور پیښ کړي؛ نو متضرر حق لري چې تاوان او دیت ورڅخه واخلي.

په سرک موټر چلول مباح دي ، خو په شرط د سلامتیا . قال في البحر: (الْمُرُورَ في طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ مُبَاحٌ بِشَرْطِ السَّلَامَةِ). البحر الرائق (٨/ ٤٠٦)

ژباړه:- تلل د مسلمانانو په لاره باندې مباح ده؛ په شرط د سلامتیا سره.

که چیرې د چا لاسونه پرې کړل شي په خطا سره ؛ نو پوره دیت ورباندې لازم دی. (الْيَدَيْنِ إذَا قُطِعَتَا خَطَأً الدِّيَةُ لِفَوَاتِ جِنْسِ الْمَنْفَعَةِ على الْكَمَالِ وفي أَحَدِهِمَا نِصْفُ الدِّيَةِ).البحر الرائق (٨/ ٣٥٧)

ژباړه:- دواړه لاسونه چې کله قطع کړل شي په خطاء سره ، په دې کې کامل دیت دی؛ ځکه چې مکمل منفعت د لاسونو له منځه لاړ او په یو لاس کې نیم دیت دی.

په فتح الملهم شرح صحیح مسلم په تکمله کې راځي: ( والظاهر أن سائق السیارة ضامن لما اتلفته في الطریق سواء اتلفته من القدام أو من الخلف ، ووجه الفرق بینهما وبین الدابة على قول الحنفیة أن الدابة متحرکة بارادتها فلا تنسب نفحتها الى راکبها بخلاف السیارة ، فانها لا تتحرک بارادتها وتنسب جمیع جمیع حرکاتها الى سائقها ، فیضمن جمیع ذلک). تکملة فتح الملهم شرح صحیح مسلم ٥٢٣/٢

ژباړه:- ظاهره دا ده چې موټروان ضامن دی د هغه څه چې په لاره کې یې تلف کړي ، برابره خبره ده چې په مخکې حصې باندې یې تلف کړي او که په وروستنۍ حصه باندې یې تلف کړي او د موټر او حیوان ترمنځ د فرق وجه داده د حنفي فقهاوو په نزد چې حیوان حرکت کوي په خپله ارادې سره نو د حیوان د وهلو نسبت د حیوان خاوند ته نه کیږي د موټر په خلاف ؛ ځکه چې موټر په خپله اراده حرکت نه کوي او د موټر ټول حرکتونو نسبت موټروان ته کیږي ؛ نو پس موټروان ضامن د ټولو ضررونو دی.

**والسلام علیکم**

**وفقکم الله و یسدد خطایانا وخطایاکم جمیعا**